زه دلته ژوند کوم
**زه دلته رایه ورکوم**

# مونږه رایه ورکوو!

په۲۶ سپتمبر ۲۰۲۱ په جرمنی کې د۲۰ ځل لپاره پارلیمانی ټاکنې کیږی. د فرایبورګ ښار په مربوطاتو کې ۱۹۰۰۰۰ داسې اوسیدونکی ژوند کوی چې د یکشنبې د ورځې پارلیمانی ټاکنو پورې بالغ او د دریومیاشتو را هیسې په فرایبورګ کې ژوند کوی. همدغه شان ۳۳۳۵۴ د فرایبورګ اوسیدونکی نشی کولای په دی ورځ په ټاکنو کې برخه واخلی، ځکه چې هغوی د جرمنی تابعیت نه لری. د فرایبورګ د ټاکنو رسمی حوزه د ټاکنو حوزه ۲۸۱ نومیږی.
ددی لپاره چې ټول د فرایبورګ اوسیدونکی په بشپړه توګه په ټاکنو کې برخه اخیستی وی، وال کرایس ۱۰۰% په ۲۶ سپتمبر سیمبولیکی ټاکنې کوی چې په کې هغه د فرایبورګ اوسیدونکی سیمبولیکی رایی اچوی کوم چې خارجی تابعیت لری.

هغه څوک چې په فرایبورګ کې ژوند کوی د ښاری اورګاډو بیه، د وړکتون یا د کود کستا ن د ځایونواو یا د ښاروالۍ هغه پریکړې چې د کورونو د جوړولو په باره کی یې کوی، دا ټول د فرایبورګ اوسیدونکی که په فرایبورګ، هامبورګ، برلین، مادرید او یا انقره کی دی دنیا ته راغلی په خپلواکه ډول نیغ په نیغه اغیزمن کوی. نو د تابعیت او د پیدائښت د ځای د شرط څخه آزاد باید هغه اوسیدونکی چې بالغ دی مساوی حقوقو په لرلو سره د خپلې ښاروالۍ پارلیمانی ټاکنو کی برخه و اخیستلای شی. په دی کی زمونږ سره د د مهاجرینو مشاورتی شورا، د فرایبورګ ښار شورا او د فرایبورګ ښار وال هُم هم نظره ده. خو د ښاروالۍ ټاکنو کی د برخې اخیستنې پریکړه دا مهال پارلیمان او فدرالی شورا د ۲/۳ په اکثریت سره کولای شی.

په ټاکنوکې د ګډون حق د دیموکراتیک نظام یو اساسی اصل دی. د خارجی تابعیت لرونکی اتباعو لپاره د ټاکنو حق په جامعه کې ادغام ته وده ورکوی او د ټولنیز او سیاسی مساوات څرګندوی دی. دا مهال د ۲۷ اروپایی اتحادیی غړیو هیوادونو څخه په ۱۴ هیوادونو کې خارجی تابعیت لرونکو اتباعو لپاره د ښاروالۍ په ټاکنو کې د ګډون حق ورکړل شوی دی.
زمونږه ستاسو څخه غوښتنه ده چې په ۲۶ د سپتمبر د ۱۰۰% ټاکنیز حوزی ته راشۍ او په ټاکنیز پاڼو کې په سیمبولیکی ډول سیاسی ډلې او وکیلان د جرمنی پارلیمان لپاره وټاکۍ.

تاسو د سهار ۱۰ بجو څخه تر مازدیګر ۵ بجو پوری خپله رایه ورکولای شۍ.
جرمنیان هم رابلل شوی دی چې د اورووپایی ټولنې پر یوه پریکړه چې په کال ۲۰۰۳ کې شوې او په کې ویل شوی چې خارجیانو ته دی د ښاروالۍ او د اورووپایی پارلمان په ټاکنو کې د رایی اچوني حق ورکړل شی ، خپله رایه ورکړی.

**26.09.**

## د مهاجرینو د ټاکنیز حق د ښاروالۍ په ټاکنو کې او په سیاست کې مساوی برخې اخیستنې لپاره!

د ۱۰۰% ټاکنیز حوزه به د فرایبورګ ۱۰۰% ټاکنیز حوزي له خوا تنظیمیږی.
د فرایبورګ د مهاجرینو مشاورتی شورا د فرایبورګ په اوسیدونکو غږ کوی چې په سیمبولیکی ټاکنو کې برخه واخلی.
په ۲۰۲۱ کې د جرمنی زیاتو ښارونو کې سیمبولیکی ټاکنې سرته رسیږی.



www.wir-wählen.org FreiburgerWahlkreis100